

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د ترکیې د پولي واحدې لیرې سقوط**

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

د ترکیې پولي واحدې لیره په یوه ورځ کې (۲۰۱۸ د اګست ۱۰مه) کې ۱۴ سلنه راټیټه شوه، په داسې حال کې چې په تېر پوره یوه کال کې په متواتر ډول ۲۱ سلنه راټیټه شوې وه. امریکا ته د ترکیې پر فولادو، المونیمو او نورو توکو باندې د یاد هېود لخوا د ګمرکي محصول لوړول د لیرې په راټیټېدو نوره هم اغېزه کړې ده، سر بېره پر دې له تېر یوه کال راهیسې په ترکیه کې د امریکایي عیسوي کشیش د خوشې کولو د مسله هم ګرمه شوې ده؛ د دې ناورین اصلي واقعیت څه دی او کوم لوري ته روان دی؟

**ځواب:**

د ځواب د ښه وضاحت لپاره باید لاندې ټکو ته ښه ځیر شو:

لومړی: د لیرې ناورین او په څو پړاوونو کې د هغې متواتر راټیټېدل:

1- کله چې خلافت او د خلافت د پولي واحد سره زر او سپین زر له منځه لاړل، نو لیره په ۱۹۲۷ ز کال کې لیرې د ډالر په معادل ارزښت سره کار پیل کړ. وروسته بیا په ۱۹۳۳ کال کې د لیرې د سقوط داستان پیل شو، چې یو ډالر د دوو لیرو معادل و او د لیرې سقوط همداسې دوام پیدا کړ، چې په ۲۰۰۱ کال کې یو ډالر له یو میلیون او ٦٥٠ لیرو سره معادل شو. د پیسو د نړیوال صندوق لخوا د اقتصادي فشارونو له امله د ترکیې اقتصادي وضعیت خورا ویجاړ و او ترکیه په دې وخت کې د اجاوید لخوا

رهبري کېدله او له سیاسي اړخه په انګلیس پورې یې تړاو درلود او په چیغو او زاریو یې پیل کړی و. وروسته په ۲۰۰۲ کې ټاکنې وشوې او دا ټاکنې د امریکا په ملاتړ اردوغان وګټلې او حکومت یې جوړ کړ. د اردوغان حکومت پرېکړه وکړه چې له خپل پولي واحد څخه شپږ صفرونه لرې کړي، چې دا پرېکړه د پارلمان په تصویب سره عملي شوله او د ۲۰۰۵ د جنوري د میاشتې له لومړۍ نېټې په رسمي ډول یې اعتبار پیدا کړ. په دې سره یو ډالر له ۱,۷۹ لېرو سره معادل شو. مګر دغه حالت زیات دوام ونه کړ او له ۲۰۱۳ کال څخه لېرې د ډالر پر وړاندې نزولي خوځښت پیل کړ او د ۲۰۱۴ کال تر لومړیو پورې دغه نزولي خوځښت خورا ګړندی شو او تر ۳۰ سلنې یې خپل ارزښت بایلود او همداسې تر ننه پورې نوره هم راټیټه شوه. د اردوغان حکومت تلاش کاوه چې د لېرې دا نزولي خوځښت ډپ کړي، مګر کله هم بریالی نشو. د لېرې ارزښت د روان کال له پیله د پام وړ ټیټوالی لري؛ چې په تېرو شپږو میاشتو کې یې ارزښت ۲۱ سلنه راټیټ شو.

2- د لېرې د راټیټېدو ناورین د جولای د میاشتې په ۲٦ تاریخ هغه وخت نور هم لانجمن شو چې کله ټرامپ او مرستیال یې مایک پنس ترکیې ته خبرداری ورکړ چې که امریکایي کشیش بونسون ازاد نه شي، نو سخت بندیزونه به ورباندې ولګوي. وروسته د اګېست د میاشتې په وروستیو کې د لېرې ارزښت نور هم راټیټ شو او یو ډالر له ۴,۹۱ سره معادل شو، په داسې حال کې چې د ترکیې د مرکزي بانک د پرېکړې پر بنسټ مخکې دا قیمت ۱۷,۷۵ سلنه چې ۴,۷٦ کېږي معادل و. د ترکیې مرکزي بانک د سه شنبې په ورځ د سود بیه ثابته وساتله او دا په تېرو ۱۴ کلونو کې د تورم هغه لوړه کچه وه. نوموړي بانک د یوې اونۍ لپاره د سود بیه ۱۷,۷۵ سلنه وساتله او د لېرې ارزښت د روان کال له پیله تر اوسه ۲۰ سلنه ټیټ شوی و، خپل ارزښت نور هم له لاسه ورکړ او په دې سره یو ډالر له ۴,۹۱ لېرو سره معادل شو او دا هغه وخت راټیټ شو چې کله پرېکړه وشوه چې یو ډالر باید له ۴,۷٦۰۵ لېرو سره معادل وي. (سرچینه: سکای نیوز عربي؛ ۲۰۱۸ د جولای ۲۴مه)

3- همدارنګه لېرې هغه وخت خپل ارزښت له لاسه ورکړ چې کله ټرامپ په خپل ټویټر پاڼه باندې اعلان وکړ چې غواړي پر ترکیه باندې اقتصادي بندیزونه ولګوي. د دې لپاره چې انقره دا ناورین کنټرول کړي، امریکا ته یې د ترکیې د بهرنیو چارو د وزیر په مشرۍ د اګېست د میاشتې په اوومه نېټه یوه ډله واستوله او دوی له خپل سیال سره د امریکا کشیش په اړه خبرې وکړې، مګر دغو خبرو کومه پایله نه درلوده. د خبرو تر ناکامېدو وروسته ټرامپ پر خپل ټویټر پاڼه د اګېست د میاشتې په لسمه د ترکیې د المونیمو او فولادو پر صادراتو د مالیې د لوړولو پرېکړه اعلان کړه او دا ستونزه یې نوره هم زیاته کړه. امریکا د ترکیې په المونیمو او فولادو چې امریکا ته صادرېږي په ترتیب سره ۲۰ سلنه او ۵۰ سلنه مالیه لوړه کړله او دې کار د لېرې ارزښت نور هم راټیټ کړ.  په دې سره د ډالر پر وړاندې د ترکیې ارزښت ۴۰ سلنه راټیټ شو. ټرامپ وویل: (د فولادو او المونیمو پر مالیاتو مې د دوه چنده زیاتوالي امر ورکړی دی. سرچینه: https://arabi21.com د اګېست ۱۰مه)

4- پورته واقعیتونو ته په کتو سره د امریکا او ترکيې ترمنځ د مالي ناورین لانجه په ظاهره د امریکايي کشیش مسله ده. ځکه د امریکا ولسمشر غواړي د امریکا اصولي مسیحیان خوشاله کړي. مګر رښتیا خبره دا ده چې د امریکايي کشیش مسله یوازې یوه پلمه ده او غواړي چې د لېرې د سقوط اصلي لاملونه پټ کړي. په اصل کې دا خبره یوه سیاسي مسله ده او امریکا غواړي چې په دې سره اورپا ته اقتصادي ټکان ورکړي، چې د دې خبرې جزیات په لاندې ډول دي:

د دې ناورین نښې د امریکا او ترکیې د اوسنۍ لانجې څخه مخکې څرګندې وې؛ د همدې لپاره ترکیې ټولټاکنې د ۲۰۱۸ کال د نومبر له میاشتې د همدې کال د جون میاشتې ته رامخته کړلې، چې داسې نه چې پر ټولټاکنو ناوړه اغېز وکړي. په دې خبره باندې خپله اردوغان هم اعتراف وکړ: (د انتخاباتو د تاریخ په مخته راوستلو سره لویو اقتصادي زلزلو ته چمتووالی نیسو، که داسې ونه کړو، نو د دې دورې مالي تاوانونه نشو زغملی.) (سرچینه: د ترکیې خبرې پاڼه: ۲۰۱۸ د اپرېل ۲۰مه). دا په دې دلالت کوي چې د لېرې د ارزښت ټیټوالی د امریکايي کشیش او ګمرکي مالیاتو مخکې په پلان کې و. ځکه امریکايي کشیش برونسون په ۲۰۱٦ کې زنداني شوی و او پر ترکیه اقتصادي بندویزونه اوس ولګول شول، نو ځکه د برونسون مسله هېڅ معنا نه لري، په ځانګړې ډول چې امریکا دین او د بشر حقونه ته کومه ځانګړې پاملرنه نه لري.

5- د ترکیې د سقوط اصلي لاملونه په لاندې ډول بیانوو:

الف) په وروستیو لسو کلونو کې پر ترکیه او په ځانګړې توګه په خصوصي سکټورونو باندې د پورونو د اندازې کچه. د ترکیې د خزانې وزارت د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر په میاشت کې اعلان وکړ چې ترکیه ۴۳۸ ملیارده پوروړې ده او دوی یوازې ۱۱ ملیارده ورکولی شي. د ترکیې د خزانې وزارت مسوولینو د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر د میاشتې په ۳۱ داسې اعلان وکړ: (موږ د ۱۰,۹۲ ملیاردو ډالرو د پور د ادا کولو لپاره چمتووالی نیسو او دا د ۴۳,۱ میلیاردو ډالرو هغه برخه ده چې موږ یې په ۲۰۱۸ کې اخلو او نوی تورم له ۱۰ سلنه زیات دی.) (سرچینه: د اناضول خبري اژانس د ۲۰۱۷ د اکتوبر ۳۱) په دې سره د خطر زنګ ووهل شو او په دې وروستیو کې د خزانې د وزارت مشاور داسې اعلان وکړ: (پر ترکیه باندې د بهرنیو پورنو اندازه د روان کال په لومړي فصل کې ۴٦٦,۱ میلیارده ډالر ده. سرچینه: د اناضول خبري اژانس د ۲۰۱۸ د جون ۲۹مه) د یادولو وړ ده چې دا د دې پورونو زیاته برخه په دولتي پروژو پوره اړه ده، مګر اجرا او پلي کول یې خصوصي سکټورونو په غاړه اخیستې، ځکه په وروستیو لسو کلونو کې د اردوغان حکومت کوښښ کړی دی چې د نړیوال پورونه یوه اندازه په خصوصي سکټورونو باندې واچوي او پر دولت یې فشار یو څه کم شي. دا پورونه خصوصي سکټورونه په مستقیمه توګه له بهرنیانو تر لاسه کوي. اوسمهال د دې قرضونه یوه برخه په خصوصي سکټورونو پورې اړه لري او همدوی یې باید ادا کړي او دا د دولت یو سیاسي چل دی او غواړي وښیي چې دولت زیات بهرني پورونه نه لري.

ب) د ترکیې د سوداګرۍ او ګمرکونو وزارت په دې وروستیو کې وویل چې په روان کال کې د صادراتو او وارداتو ترمنځ ۷۷,۰٦ سلنه تفاوت موجود دی. په داسې حال کې چې په تېر کال کې دا تفاوت یوازې ۳۷,۵ سلنه و او دا

په دې پولي واحد سره په سختۍ ورکول کېږي. په ۲۰۱۷ کې د ترکيې صادرات ۱۵۷,۱ ميلیارده ډالر وو او واردات يې ۲۳۴,۱۵٦ ميلیارده ډالر وو. (سرچينه: د ترکيې دولتي ټلويزيون، ۲۰۱۸ د جنوري دويمه.) سربېره پر دې د تورم رسمي شمېرې هم د ترکيې د شمېرو او ارقامو د رسمي ادارې له لوري د روان کال د اګېست د مياشتې په درېيمه اعلان شوې؛ دا اداره د تورم اندازه ۱۵,۸۵ سلنه ښيي. (سرچينه: د اناضول خبري اژانس، ۲۰۱۸ د اګېست دريمه) د تورم دا کچه له ۲۰۰۳ کال راهيسې چې کله اردوغان او د هغه حزب واک ته رسېدلی دی لوړه کچه ده او دا لومړی ځل دی چې د تورم کچه دومره لوړه شوې ده. په داسې حال کې چې د ترکيې د مرکزي بانک دنده او موخه دا ده چې ياد تورم پنځه سلنې ته راټيټ کړي، يعنې د اورپا د تورم له کچې سره يې برابر کړي. مګر دې موخه ته په رسېدو کې دوی ناکام شول، ځکه دوی دا کچه يوازې اته سلنې ته راټيټه کړی شوی، مګر تېر کال بېرته دا کچه لس سلنې ته جګه شوه او سږ کال ۱٦ سلنې ته جګه شوه.

ج) د طبقه بندۍ د اژانسونو لخوا د ترکيې د اقتصاد ټيټ ښوودل، چې دې چارې د لېرې پر ارزښت منفي اغېز وکړ او د اعتماد کچه يې د ترکيې پر اقتصاد راټيټه کړله. له دغو اژانسونو څخه د (موديز) آژانس د ۲۰۱۸ د اپرېل پر ۱۴ اعلان وکړ چې د ترکيې د پولي واحد کمزوري او د پورونو زياتوالی کېدی شي خورا خطرناک وي. ياد اژانس وويل: (د ترکيې د پولي واحد سخته کمزوري د هغه د قرضونو په کچه باندې اغېز کوي او اقتصاد يې له ستونزو سره مخ کوي.) سرچينه: د رويترز خبري اژانس، ۲۰۱۸ د اپرېل ۱۴مه. ياد اژانس د ۲۰۱۸ د مارچ په ۱۳م د ترکيې درجه له BA1 څخه BA2 ته راټيټه کړله. اردوغان په دې کار سخت خواشينی شو او داسې يې وويل: (د اقتصادي ودې د ټاکونکو اژانسونو موخه دا ده چې ترکيه په اقتصادي کړاوونو کې واچوي او مالي بازارونو بايد دا خبرې جدي ونه نيسي.) سرچينه: ترک پرس، ۲۰۱۸ د مارچ ۱۳مه. همدارنګه د اقتصادي ودې د درجه بندۍ يوه بل آژانس (اند پورز سټنډرډ) د ۲۰۱۸ د مې په دويمه نېټه له تمې خلاف د ترکيې اقتصاد يې له مخکې کمزوری اعلان کړ. ياد اژانس اعلان وکړ چې غواړي د ترکيې د اقتصادي ودې درجه له (B/BB+) څخه يې (B/BB-) راښکته کړي. ياد اژانس په يوه بيانيه کې داسې اعلان وکړ: (د دې راټيټدو لامل دا دی چې موږ د ترکيې د پولي واحد له بې ثباتۍ او د تورم د لوړې کچې او نوسان څخه وېره لرو.) سرچينه: د رويترز خبري اژانس، ۲۰۱۸ د مې دويمه. همدارنګه د (فيتش) په نامه يوه بل اژانس په خپله يوه بيانيه کې داسې څرګندونې کړې وې: (د ترکيې د اقتصادي ودې د درجې راټيټېدل له (BB+) څخه (BB) د لېرې د تورم د زياتوالي او همدارنګه هغه ستونزې دي چې د ترکيې په اقتصادي سياست کې شتون لري.) (سرچينه: ترک پرس، ۲۰۱۸ د جولای ۱۴مه.)

څرګنده خبره ده چې دغه اژانسونه پر اقتصادي وضعې ژور اغېز لري؛ ځينې وخت د يوه هېواد اقتصادي ستونزې پټې ساتي او تمرکز نه ورباندې کوي، چې دا کار يې په کلونو له ترکيې سره وکړ. همدارنګه ځينې وخت د يوه هېواد له اقتصادي ستونزو پرده پورته کوي او حتا څو برابره يې زياد ښيي، چې ورته کار يې اوس له ترکيې سره وکړ؛ چې دا د دې لامل ګرځي چې پوروړي له ترکيې خپل پورونه وغواړي او ترکيه خپل پورنه په لېره نه، بلکې په بهرنيو پولي واحدونو سره ورکړي او په دې سره د لېرې ارزښت راټيټ شي.

دویم: هغه پوښتنه چې دلته راپورته کېږي دا ده چې که د لېږې ناورین اوس نه، بلکې له ډېره وخته راهیسې پیل شوی دی، نو ولې اوس چې د عیسوی کشیش له لارې او د مالیو د زیاتوالي پر مهال یې راپورته کړ او لېره دومره تیز خپل ارزښت له لاسه ورکوي؟ اوس چې امریکا په لېږې پسې دومره راخیستې ده چې حتا د دواړو هېوادونو ترمنځ د شخړې لامل گرځي او یا دا چې ترکیه باید له امریکا، ناټو او ... سره خپلې اړیکې پرې کړي په داسې حال کې چې دا یو غبرگون هم عملا نه دی شوی، نو رښتیا خبره څه ده؟ په دې خبره باندې د پوهېدو لپاره باید لاندې واقعیتونه وڅېړو:

1- یوه مهمه مسله چې د ټرامپ حکومت د خپلو کارونو په لومړیتوبونو کې ونیوه دا ده چې امریکا باید ډالر د یورو په گډون د نړۍ د ټولو پولي واحدونو پر وړاندې ارزښتمن کړي. امریکا لومړی وغوښتل چې د یورو په سیمه کې د سود له ټیټې کچې استفاده وکړي او په امریکا کې یې د سود کچه لوړه کړله او په دې سره یې زیاتې پانگې امریکا ته جذب کړلې. امریکا تمه درلوده چې دا کار به یې یورو د ډالر پر وړاندې بې ارزښته کړي، مگر داسې ونه شول، بلکې د یورو ارزښت همداسې پاتې شو، ځکه چې د اورپا مرکزي بانک د نغدې او د تیسیر په نامه نغدو نوټونو د اخیستلو د کمولو سیاست یې وکاروه او دا کار د دې لامل شو چې په اورپا او اسیا کې پانگونه له زیاتې گټې سره سرته ورسېږي او په امریکا کې پانگونه ډپ کړي. کله چې ټرامپ په دې کار کې ناکام شو، نو د وارداتو په کمولو او د صادارتو په زیاتولو یې پیل وکړ، څو سوداگریزې معاملې په خپله گټه وڅرخوي او په دې سره د ډالر ارزښت لوړ کړي. له همدې امله یې په وارداتي توکو مالیه زیاته کړه. ویلبور روس د ۲۰۱۸ د مې په ۳۱مه اعلان وکړ چې هېواد یې له اورپايي اتحادیې، چین، مکسیکو او کاناډا څخه په وارېدېدونکو فولادو او المونیمو مالیه لوړوي. سرچینه، www.dw.com ، ۲۰۱۸ د مې ۳۱)
2- د ټرامپ یو سیاست هم د یورو د ارزښت د ټیټولو او د ډالر د ارزښت د زیاتولو په موخه بریالی نشو، نو فکر یې وکړ چې راځه پر ترکیه فشار راوړه او د لېږې ارزښت ټیټ کړه. امریکا غواړي چې د اورپا مالي بازارونو وځپي او په دې سره اورپا وویروي. ځکه اورپا له ترکیې سره خورا زیاتې مالي معاملې لري او په ترکیه کې تر ټولو زیاته پانگه اچونه د اورپا ده او دا کچه په ۲۰۱۷ کال ۴۲ سلنه لوړه شوه. همدارنگه د ترکیې د سوداگریزو توکو زیاته معامله له اورپا سره ده او دا کچه په ۲۰۱۷ مې ۱۶۰ میلیارده ډالره وه، چې زیاته گټه یې هم اورپا ته رسېږي. دواړو لوریو پرېکړه کړې چې د گډ گمرک هوکړه لیک چې په ۱۹۹۵ کې شوی دی له سره نوی کړي او په دې سره غواړي د سوداگریزې راکړې ورکړې کچه تر راتلونکې یو نیم کال پورې ۲۰۰ میلیاردو ډالرو او تر راتلونکو پنځو کالو پورې یې ۵۰۰ میلیاردو ډالرو ته ورسوي. دا معلومات د ترکیې د اقتصاد وزیر نهاد زیکجي رسنیو ته ورکړل. سرچینه: شرق الاوسط، ۲۰۱۷ د سپټمبر ۲۹مه) په داسې حال کې چې د ترکیې او امریکا ترمنځ د سوداگریزې راکړې ورکړې اندازه ۱۸,۷ میلیارده ډالر ده، چې ترکیې ته د امریکا صادرات د ټرامپ په لومړیو ۱۱ میاشتو کې ۷,۲ سلنه له ترکیې امریکا ته زیات وو. سرچینه: د اناضول خبري اژانس د ۲۰۱۸ د جنوري ۲۱مه. نو که

امریکا هر څومره د ترکیې اقتصاد ته ټکانونه ورکوي په همغه کچه د اورپا اقتصاد زیانمنوي او په دې سره لکه څنګه چې ټرامپ پټېیلې ده د یورو ارزښت راټیټ کړي.

۶. د اورپا بازار د لیرې د سقوط له امله اغېزمن شو:

الف) د اورپا مرکزي بانک تل د ترکیې پر وړاندې د یورو د سیمو د بانکونو د دروازو د پرانیستلو په اړه اندېښنه درلوده، په ځانګړې توګه فرانسوي NB-BARIBA، هسپانوي بي بي في ایه او د ایټالوي اوني کریډېټ بانکونه؛ په دغو دریو بانکونو کې ترکي لیره پراخ فعالیت لري او د دې بانکونو سهام تر دریې سلنې راټیټ شول او له همدې همدې امله د ترکیې له وروستیو بدلونونو څخه اغېزمن شول.

ب) د نړیوال بانک د وروستیو شمېرو پر بنسټ؛ د هغو پورونو کچه چې اورپایي بانکونو ترکیې ته ورکړي دي ۲۲۴ میلیارده ډالر دي، چې تقریبا ۲۰۰ میلیارده یورو کېږي، چې زیاته کچه یې د هسپانوي بانکونو له لوری ورکړل شوې ده. اوس دا بانکونه د ترکیې د ناورین په اړه سخته اندېښنه لري، ځکه چې د لیرې تر سقوط وروسته د دغو بانکونو اسهام له ۱۰ تر ۲۰ سلنې راټیټ شوي دي او لامل یې هم هغه پورونه دي چې ترکیې ته یې ورکړي دي. سرچینه: سکای نیوز، ۲۰۱۸ د مې ۳۱مه.

ج) بله مسله چې د ترکیې د پورونو په اړه اندېښنې راپورته کوي دا ده چې ترکیه د خپلو پورونو د ورکړې وس نه لري؛ ځکه چې ترکي پانګوال ۸۲,۳ میلیارده ډالر له هسپانیوي بانکونو، ۳۸,۴ میلیارده له فرانسوي بانکونو او ۱۷ میلیارده له ایټالوي بانکونو پوروړي دي. له همدله امله په اورپا کې د خطر زنګ کړنګول کېږي، ځکه دغو بانکونو خپل اسهام له لاسه ورکړي دي. سرچینه: https://www.ft.com/content/51311230-9be7. د لیرې د ارزښت کمېدل د دې شونتیا زیاتوي چې ترکیه خپل پورونه ادا نه شي کړلی او دا خپله اورپا په پراخه کچه اغېزمنوي.

د) ځینې راپورونه داسې ښیي چې یو شمېر لوی ترکي شرکتونه له ۲۲۰ میلیارده زیات پوروړي دي او د لیرې تر سقوط وروسته یې دولت ته د مرستې غوښتنلیکونه استولي دي. دغوش یو هغه لوی شرکت دی چې د یوه لوی ترکي شتمن فریدهاینک لخوا رهبري کېږي، نوموړي له بانکونو غوښتي چې له نوموړي سره پورونه ور سره په ډالرو واړوي. ځینې راپورونه ښیي چې دا ډول پورونه چې په ډالرو باندې اړول غوښتي ۲۰ میلیارده ډالرو ته رسېږي.

هـ) د المان د صنعت او سوداګرۍ خونې اعلان وکړ چې ۶۵۰۰ الماني شرکتونه په ترکیه کې فعالیت کوي او په ترکیه کې له شته ناوړه اقتصادي وضعیته اغېزمن شوي دي. نوموړې خونې اعلان وکړ چې یاد الماني شرکتونه غواړي نور په ترکیه کې پانګونه ونه کړي. سرچینه: www.lebanon24.com ، ۲۰۱۸، د اګیست ۱۳مه)

درېیم: نو د لیرې پر سقوط باندې د امریکا د فشار موخه دا ده چې په دې سره د اورپا اقتصاد وځپي او بلاخره د یورو ارزښت د ډالر پر وړاندې ټیټ کړي. د ټرامپ فشارونه د دې لامل شوي دي چې په ترکیه کې د خلکو ژوند له

ستونزو سره مخ شي، مګر ټرمپ دې ته هېڅ ارزښت نه ورکوي. که څه له ټرامپ غوندې انسان څخه د داسې کار کول د حیرانتیا ځای نه دی. ځکه نوموړی د پدوانۍ د مفکورې پر بنسټ رالوی شوی دی او د پدوانانو وینه یې په رګونو کې ده، مګر هغه څه چې خورا ناوړه دي او انسان ته ازار ورکوي دا دي چې اردوغان دا خاین او چمباز درک نه کړ او اردوغان حیرانېږي چې خپل یو تاریخي ستراتیژیک دوست یې د یوه کشیش له امله وځپلو.

اردوغان د تور سمندرګي په غاړه په اونیه ښار کې یوې غونډې ته داسې وویل: (د یوه کشیش د خلاصون لپاره د ترکیې پر وړاندې دا ډول جرئت او ګواښ لویه اشتباه ده.) نوموړي زیاته کړه: (یو ځل بیا امریکایي چارواکو ته وایم چې تاسو ته شرم دی چې په ناټو کې خپل یو ستراتیژیک دوست له یوه عیسوي کشیش سره معامله کوئ.) سرچینه: د الانباء پاڼه، ۲۰۱۸، د اګېست ۱۲مه) وروسته یې په غم او پرېښانۍ ټرامپ ته خطاب وکړ چې ترکیې د امریکا لپاره خورا زیات خدمتونه کړي دي او له د امریکا لپاره یې د خپلو مبارزو یادونه وکړه. همدارنګه نوموړي په یوه لیکنه کې چې د (له امریکا سره ناورین څنګه ارزوئ) تر سرلیک لاندې د نیویارک ټایمز په نشریه کې خپره شوه داسې ویلي دي: (٦٠ کاله کېږي چې امریکا او ترکیه په ناټو کې ستراتیژیک ملګري او شریکان دي. دواړو هېوادونو په ګډه د سړې جګړې پر وړاندې او تر هغه وروسته مبارزه وکړه او یو د بل تر څنګ یې سختې ستونزې وګاللې. ګڼ کلونه ترکیې د امریکا غوښتنې ته هرکلی ویلی دی. زموږ پوځونو د کوریا په جګړه کې اوږه په اوږه د امریکایي سرتېرو ترڅنګ جنګ کاوه، د کیوبا د توغندیو د ناورین پر مهال د امریکا ترڅنګ ودرېدو، د وضعیت د ارامولو لپاره مو امریکا ته اجازه ورکړه چې د جای جوبیتر توغندي زموږ په خاوره کې نصب کړي او کله چې امریکا وغوښتل د سپټمبر د ۱۱ د پېښې عاملینو ته جزا ورکړي استفاده یې ترې وکړه. ترکیې د ناټو په چوکاټ کې خپل سرتیري د امریکا د جګړې د بریالیتوب لپاره افغانستان ته واستول.) د ادروغان له خبرو ښکاري چې نوموړي خپله دوستي د امریکا پر وړاندې چې د اسلام او مسلمانانو دښمن دی، څنګه اعلانوي. مګر د دې ټولو چوپړونو پایله یې دا شوه چې هغه هېڅ ارزښت نه ورکوي.

څلورم: دا چې د امریکا او ترکیې ترمنځ به دا کړکېچ تر کومه ادامه ولري، په دې اړه داسې وایو:

1- په اصل کې پر لېره د امریکا فشار د دې لپاره دی چې د اورپايي اتحادیې اقتصادي وضعیت وځپي او په پایله کې د یورو پر وړاندې د ډالر ازښت لوړ کړي، نو کله چې ټرامپ دې موخې ته ورسېد او خپله غریزه یې اشباع کړه، نو د اقتصادي ودې د درجه بندۍ د سازمانونو په وسیله به بېرته ارقام او شمېرې واړوي او له لېرې به بېرته خپل ملاتړ اعلان کړي، ځکه چې د امریکا موخه لېره نه، بلکې یورو ده او اوس ځکه پر لېره فشار راوړي چې له اورپا سره یې خورا زیاتې سوداګریزې راکړې ورکړې دي، ځکه همدا اوس د ډالر پر وړاندې یورو راټیټه شوې ده: (کله چې فایننشل ټایمز له دوو نورو سرچینو څخه راپور خپور کړی چې د اورپا مرکزي بانک د هسپانیې، ایټالیې او فرانسې د بانکونو په اړه اندېښنه لري، یورو سخته اغېزمنه شوله. اوس یوه یورو ۱,۱۳٦٥٥ دی او دا د ۲۰۱۷ کال د جولای له میاشتې تر ټولو ټیټ قیمت دی. سرچینه: د رویترز خبري اژانس ۲۰۱۸، اګېست ۱۳مه)

امریکا په ۲۰۰۳ کال کې د اردوغان د قدرت ته رسېدو سره سم د ترکيې اقتصاد په کاذبو خبرونو سره لوړ وښوود. په داسې حال کې چې تر اردوغان مخکې د اجاوید د واکمنۍ پرمهال د لیرې ارزښت خورا ټيټ او اقتصاد يې سخت ويجاړ و. امریکا او ملګرو يې ترکيې ته د زیاتو پورونو په ورکړې سره پرمختللی وښوود او د اقتصادي ودې د اژانسونو لخوا يې په لوړه درجه کې راوست. وروسته يې د ترکيې اقتصاد د ودې په حالت کې معرفي کړ، په داسې حال کې چې په پورونو او سودونو باندې ولاړ و.

2- امریکا ته د ترکيې المونیمو او فولادو د صادارتو په اړه باید وویل شي چې دا ډېر تاثیر نه لري، ځکه امریکا ته د ترکيې د فولادو د صادراتو بيه يوازې له يوه ميليارد يو څه زياته ده او دا د دولتي اقتصاد د مجموعي کچې په نسبت چې ۱۵۷ ميلیارده ډالره ده، خورا کمه ده. اصلي موخه دا ده چې د ترکيې په اقتصادي بازار کې د لیرې په اړه سخته اندېښنه راپورته کړي او په دې سره د اورپا اقتصاد وځپي او بلاخره د یورو ارزښت د ډالر پر وړاندې ښکته کړي. ځکه چې د اورپا او ترکيې ترمنځ زياتې سوداګریزې معالې کېږي او د امریکا له نظره دا موثر کار و.

3- په ترکيه کې د امريکايي کشيش د نيولو په اړه بايد ووايو چې نوموړی کابو دوه کاله کېږي چې بندي دی، مګر بيا هم د امریکا او ترکيې ترمنځ اړيکې نورمالې وې، نو ټرامپ دا مسله په قصدي توګه جدي ونیوله او د راتلونکو انتخاباتو لپاره ترې استفاده وکړي او د دې ترڅنګ د ترکيې او امریکا ترمنځ دا ستونزه د ترکيې د پولي واحد د ټيټېدو لامل شي او امریکا ترې د ځان په ګټه استفاده وکړي. نو د کشیش موضوع په دې مسله کې يوازې د ستونزې د راپورته کولو کې وکارول شوه. اصلي موخه د یورو ځپل و، چې امریکا تقریبا دې موخې ته رسېدونکې ده او کېدی شي کشیش وروسته په يوه داسې اسلوب ازاد شي چې د اردوغان ابرو پکې لاړه نشي او يا يې ابرو ته هېڅ ارزښت ورنه کړل شي.

4- مګر هغه ستونزې چې د لیرې د ټيټوالي او د لومړنیو توکو د لوړوالي له امله د ترکيې خپل زغمي، نه ټرامپ ته اهمیت لري او نه هم د هغه ملګرو او نه هم دامریکا مزدورانو ته. اوس کوندې د امریکا مزدوران پوه شوي وي چې کله چېرته د امریکا ګټه وي، بيا نه د خپلو مزدورانو پروا لري، نه يې د خلکو او هر څه چې وغواړي کوي يې؛ حتا کولی شي خپل مزدوران توهين کړي او د خپل خلکو پر وړاندې يې بې ارزښته کړي. ربښتيا هم کله چې يو څوک ټيټ او ذليل وي، نو هر ډول توهين او رټل ورته اسانه وي.

پایله دا چې هغه ناورين چې ټرامپ د مالیاتو د لوړولو، د کشیش د موضوع د راپورته کولو، د اقتصادي ودې د اژانسونو لخوا د ترکيې د ټيټې درجې ښوودلو، د ترکيې د پورونو د افشاء کولو پر مټ منځه راوړ او له امله يې د لیرې ارزښت خورا ټيټ کړ، موخه يې د اورپا ويرول او د دوی د اقتصاد ويجاړول وو، څو يورو د ډالر پر وړاندې راټيټه کړي. ځکه چې له اورپا سره د ترکيې سوداګریزې راکړې ورکړې خورا زياتې وې او د يورو د ټيټولو لپاره پر ترکيه فشار د امریکا لپاره ښه لاره وه.

لکه څنگه چې اردوغان اوس هم د امریکا پر محور تاویږي، نو شاید دا ناورین ډېر وخت ونه نیسي، بلکې کله چې ټرامپ ووینې چې یورو د ډالر پر وړاندې د نوموړي په زړه راټیټه شوې ده، نو لکه څنگه یې چې دا ناورین پیل کړی، همداسې به یې پای ته ورسوي. دا کار شاید داسې وکړي چې د اردوغان ابرو پکې لاړه نشي او شاید هېڅ پروا یې هم ونه لري او وروسته به کشیش ازاد شي، سختې مالیې به لغوه او یا به یې کمې کړي او د اقتصادي رشد اژانسونه به ترکیې ته امریکا په پور ورکولو سره بېرته د ترکیې اقتصادي ودې درجه لوړه وښیي او په دې سره به د لیرې ارزښت بېرته لوړ کړي، که څه هم شاید ارزښت یې بېرته تر ناورین مخکې کچې ته ونه رسېږي. نو بېرته به اردوغان او ټرامپ غاړه غړی شي او داسې به وښیي چې گواکې هېڅ هم نه دي شوي.

رښتیا هم چې کله د دغو مزدورو حکامو د بادارانو گټې هر څه وغواړي، دوی یې ورته چمتو کوي او که دوی سپکېدل هم پروا یې نه لري، حتا که وغواړي خپل مزدوران د قدرت له گدۍ هم غورځوي، چې په ځلونو یې له خپلو مزدورانو سره همداسې کړي هم دي. مگر داسې څوک شته چې پند ترې واخلي؟! ﴿إن فی ذلک لذکری لمن کان له قلب أو ألقی السمع و هو شهید﴾

**۱۴۳۹ د ذی الحجې ۱۲مه**

**۲۰۱۸ د اگېست ۲۳ مه**

**ژباړه: انجنیر احرار**